بسم الله الرحمن الرحيم

د پوښتنې ځواب

## د افغانستان او پاکستان ترمنځ سرحدي شخړې

(ژباړه)

**پوښتنه:**

د طالبانو حکومت سه شنبه پاکستان تورن کړ چې د یوې ښځې او دوو ماشومانو په ګډون درې ملکیان یې د دواړو هیوادونو ترمنځ د پولې پر سر شخړو کې وژلي. په تورخم کې یوه پاکستاني چارواکي وویل چې په دغو شخړو کې درې پاکستاني عسکر هم ټپیان شوي...

تر دې وړاندې د پیسو نړیوال صندوق د جمعې په ورځ له پاکستان سره یوه هوکړه لاسلیک کړه چې د ۷ ملیاردو ډالرو په ارزښت د مالي مرستو کڅوړه په دریو کلونو کې پلې کړي. (سکای نیوز عربي؛ ۲۰۲۴ د جولای ۱۳مه).

د دغو شخړو ترشا څه دي؛ په ځانګړي ډول دا چې پخوا هم دا ډول شخړې وې؟ ایا دا د پیسو نړیوال صندوق له مرستو -چې د امریکا تر کنټرول لاندې دي- او پر هند د تمرکز پر ځای له افغانستان سره د پاکستان له شخړې سره اړیکه لري تر څو هند وکولی شي له چین سره پر مقابلې تمرکز وکړي او د امریکا د ګټو لپاره چین له ستونزو سره مخ کړي؟ او که نور دلیلونه لري؟

**ځواب:**

د دغو پوښتنو د روښانه کولو لپاره د لاندې ټکو یادونه اړینه ده:

۱. د ۲۰۲۳م کال د جنوري په ۲۸مه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د بریتانیې استعماري حکومت لخوا کاږل شوې پولې اړوند یوې پوښتنې ته زموږ په ځواب کې راغلي:

«په ۱۸۹۳ کال کې د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیر، سر مورټیمور ډیورنډ او د افغانستان حاکم، امیر عبدالرحمن خان ترمنځ یو هوکړه‌لیک لاسلیک شو چې د ډیورنډ په نامه سرحدي کرښه وکاږل شي؛ دا کرښه له شمال ختیځ څخه تر سویل لوېدیځ پورې ۲۶۴۰ کیلومتره اوږده ده. دا کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ رسمي پوله وټاکل شوه چې د پښتنو قبیله په دوو برخو ویشي. د یادولو وړ ده چې په دغې سرحدي سیمه کې پښتانه اوسېږي چې

د افغانستان تر ټولو لوی قوم دی او د افغانستان د ټول نفوس شاوخوا ۴۰ سلنه جوړوي. په تېرو دوو  پېړيو کې د افغانستان ټول حاکمان له همدغه قوم څخه وو. پښتانه په پاکستان کې هم تر پنجابيانو وروسته دويم لوی قوم دی…

افغانستان دا پوله نه مني؛ په ځانګړي ډول دا چې بريتانيې هغه وخت –د ۱۸۹۳م کال د نومبر ۱۲مه- د دغې سيمې جميعتي، قومي او قبيله‌اي جوړښت په پام کې ونه نيوه او دا کرښه يې رسم کړه چې له دې لارې خپلې ګټې خوندي کړي. انګريزان د ډېرو پخوانيو پشان د سرحدي سيمو په کنټرول کې له ستونزو سره مخ شول. بريتانيه د ۱۸۳۹-۱۸۴۲ کلونو ترمنځ پر افغانستان تر بريد وروسته له سترې ماتې سره مخ شوه. دوی په ۱۸۷۸م کال کې بيا پر افغانستان بريد وکړ، خو تر دوو کلونو ورسته يې شاتګ وکړ؛ خو ويې وکولی شول چې د افغانستان د حاکمانو له لارې سياسي نفوذ ترلاسه او په ۱۸۷۹ کې ګندمک معاهده لاسليک کړي؛ دا معاهده د دې سبب شوه چې افغانستان خپله ډېره خاوره له لاسه ورکړي او په هند کې د بريتانيې تر استعمار لاندې راشي».

۲. د ډيورنډ کرښې په افغانستان کې د نا ارامۍ پر مهال؛ په ځانګړي ډول په ۱۹۷۹ کې د شوروي او بيا په ۲۰۰۱ کې د امريکا د يرغل پر وخت خپل ارزښت بايللی و. خو په ۲۰۲۱ کې له افغانستان څخه د امريکا تر ذليلانه وتلو وروسته يو ځل بيا د مناقشې د يوه ټکي په توګه راپورته شوې چې د امريکا د اوسني سياست د ګټو انعکاس کوونکې ده.

د يادولو وړ ده چې دا پوله د شوروي د اشغال پر وخت نسبتاً د نفوذ وړ وه؛ دغه کار په پاکستان کې روزل شوو مجاهدينو ته، چې د شوروي پر وړاندې يې جهاد کاوه، تګ راتګ اسانه کاوه. له بلې خوا دا چاره د کرښې دواړو خواوو ته د پرتو پښتو ترمنځ کورنيو اړيکو او جميعتي واقعيتونو سره همغږې وه. سربېره پر دې، د امريکا له سياست سره چې له شوري سره مقابله وه، هم همغږې وه.

خو کله چې افغانستان د امريکا لخوا اشغال شو، د امريکا سياست هم بدل شو او په پايله کې يې له پاکستانه وغوښتل شول چې پر پوله کنټرول زيات او د امريکا ضد مجاهدينو د تګ راتګ مخه ونيسي. په همدغه سبب د پاکستان پوځ د پاکستان دننه سرحدي سيمو کې سختې نښتې پيل کړې.

۳. د ۲۰۱۸م په مې مياشت کې پاکستان هغه قبايلي سرحدي سيمې چې د افغانستان پولې ته نږدې پرتې دي، له خيبر پښتونخوا ايالت سره يو ځای کړې او په دې ترتيب يې په دغو سيمو کې د پاکستان د قوانينو، پوليسو او قضاء د صلاحيت نشتون ته د پای ټکی کېښود. پاکستان له افغانستان سره سرحدي مسله حل شوې ګڼي، لکه څنګه چې لنډمهاله لومړي وزير انور الحق کاکړ د افغانستان له طلوع نيوز ټلويزيون سره په مرکه کې تاييد کړه، هغه وايي: «د ډيورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان تر منځ د نړيوال سرحد په توګه پېژندل شوې ده … ملګرو

ملتونو او ۲۰٦ هېوادونو د یوه نړیوال سرحد په توګه تایید کړې ده او هغه څه چې د افغانستان خلک یې په دې اړه وایي، چې دا د دوی داخلي بحث دی، زه ورسره موافق نه یم.» (طلوع نیوز، ٦ فبروري ۲۰۲۴).

په همدې توګه د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان ټولو حکومتونو، پرته له دې چې سیاسي یا ایډیولوژیک تړاو ته یې پام وشي، د دوو هېوادونو تر منځ د رسمي سرحد په توګه د ډیورنډ کرښې له پېژندلو ډډه کړې ده. په دې اړه وروستی نظر د طالبانو د حکومت د سرحدونو او قبایلو چارو د وزیر ملا نور الله نوري دی، چې ویې ویل: «د افغانستان او پاکستان تر منځ هېڅ رسمي سرحد نشته دی».

د دغه سرحد پر سر اختلاف چې ۲٦۰۰ کیلو متره اوږدوالی لري، ورځ تر بلې زیاتېږي. په مخکینۍ پوښتنه او ځواب کې د ۲۰۲۳م د جنوري په ۲۸مه موږ یادونه وکړه چې؛ «پاکستان د افغانانو لپاره د وېزې پر لګولو د لومړي ځل لپاره په تاریخ کې کنټرول زیات کړی دی. دغه اختلافات د یوه ۳ متري سرحدي دیوال په جوړولو سره نور هم ډېر شوي، چې د سلګونو کیلو مترو په اوږدو کې سلګونه میلیون ډالر لګښت پرې راغلی دی. دا ټول په دې پلمه ترسره شول، چې د توکو او خلکو تګ راتګ تنظیم کړي او د «تروریستانو» مخه ونیسي. دغه دیوال د دواړو هېوادونو تر منځ د سرحدي شخړو او اختلافونو د زیاتوالي یو دلیل وګرځېد. د طالبانو حکومت د ۲۷۰ کیلو متره سرحد په اوږدو کې د دیوال د جوړولو مخه ونیوله، وروسته له هغه چې ۹۰ سلنه بشپړ شوی و. د اشرف غني حکومت له نسکورېدو وړاندې توافق کړی و، چې دیوال دې په بشپړه توګه جوړ شي. پاکستاني ځواکونه چې هر ځل د دیوال د بشپړولو هڅه وکړي، د طالبانو حکومت ورسره شخړه کوي، چې په پایله کې یې په مختلفو سرحدي سیمو کې یو شمېر شخړې کړې دي او دواړو خواوو ته ځاني مرګ‌ژوبلې اوښتې دي. په همدغه ترتیب د دواړو هېوادونو تر منځ شخړې زیاتې شوې، په ځانګړې توګه کله چې د پاکستان حکومت طالبان په دې تورن کړل، چې د پاکستان پر پوځ د تحریک طالبان پاکستان (TTP) د بریدونو مخه نه نیسي. پاکستان له هغه وروسته د افغانستان په خاوره کې هوایي بریدونه وکړل او ادعا یې وکړه چې د تحریک طالبان پاکستان (TTP) مجاهدین په نښه کوي.

۴. په همدغه ترتیب د پاکستان د پوځ او د طالبانو د ځواکونو تر منځ سرحدي شخړې او مخالفتونه د دواړو هېوادونو تر منځ په اړیکو کې پر یوه نوي واقعیت بدلې شوې دي. دغه شخړې د سرحدي مسایلو او د تحریک طالبان پاکستان (TTP) او د پاکتسان د پوځ تر منځ د بریدونو په سبب زیاتې شوې دي. تېر کال د مرګ‌ژوبلې شمېره په تېرو شپږو کلونو کې لوړې کچې ته ورسېده او د ملکیانو په ګډون تر ۱۵۰۰ ډېر امنیتي ځواکونه او شبه نظامیان پکې ووژل شول. د امنیتي څېړنو او مطالعو د مرکز په خبره (الجزیره نټ، ۱۷ جولای ۲۰۲۴).

دې ته په پام سره چې پاکستان پر افغانستان تور پورې کوي، چې د تحریک طالبان پاکستان (TTP) مجاهدینو ته یې ځای ورکړی، اسلام اباد پر افغانستان خپل فشار زیات کړی دی. د طالبانو د یوه ویاند، قاري یوسف احمدي

په وینا: «ګاونډي هېوادونه-پاکستان او ایران- د ۲۰۲۴م کال له پیل راهیسې له ۴۰۰ زرو ډېر کډوال په زور ایستلي دي، چې ۷۵ سلنه یې د پاکستان په واسطه ایستل شوي دي.» (الحره، ۱۱ جون ۲۰۲۴) .

۵. له دغو ټولو مسایلو څخه ښکاري چې د پاکستان حکومت د امریکا متحد دی او په فعاله توګه په افغانستان کې طالبان ازاروي او تحریکوي. دغه حکومت د ټول سرحد په اوږدو کې د افغانانو تګ راتګ محدود کړی، له خلکو د خپلو دوستانو د لیدو لپاره د وېزې غوښتنه کوي او سرحدي دیوال یې د یوه واقعیت په توګه تثبیت کړی دی. پر دې سربېره پاکستان په عملي توګه د افغانستان خاورې ته سرحد دننه کړی دی، پر افغان کډوالو یې محدودیتونه زیات کړي دي، تر ۲ میلیونو ډېر کسان یې له پاکستان څخه را ایستلي، چې په هغو کې ۶۰۰ هغه کسان وو چې په ۲۰۲۱م کال کې د امریکا له وتلو وروسته له هېواده وتلي وو (الحره، ۱ نقرضبر ۲۰۲۳). په ۲۰۲۲م کال کې پاکستان د امریکا الوتکو ته د تېرېدو اجازه ورکړه، ترڅو د افغانستان په دننه کې هوایي بریدونه وکړي، چې په پایله کې یې د القاعدې مشر ایمن الظواهري ووژل شو. پر دې سربېره پاکستان د افغانستان په سرحدي سیمو کې بریدونه کوي او په ځانګړې توګه د تحریک طالبان پاکستان (TTP) وتلې څېرې په نښه کوي .

۶. د پاکستان ټول اقدامات د امریکا د سیاست پر محور ترسره کېږي، چې موخه یې په افغانستان کې پر طالبانو د فشار راوستل دي، ترڅو په بشپړه توګه تسلیم شي. دا هم د واشنګټن له خوښې سره سم ترسره کېږي، ترڅو د پاکستان پوځ له یوې خوا داخلي جګړې ته تحریک کړي او له بلې خوا یې له افغانستان سره ښکېل کړي، ترڅو د چین پر وړاندې له امریکا سره د هند ملګرتیا ته لاره هواره شي. پر دې سربېره دغه اقدام د امریکا د هغو هڅو ښکارندویي کوي، چې د چین مخه ونیسي، ترڅو د افغانستان طبیعي سرچینې ترلاسه نه کړي. د امریکا او طالبانو تر منځ تر دوو لسیزو زیاتې اوږدې جګړې او په ۲۰۲۱م کال کې د امریکا تر وتلو وروسته، د چین هیلې زیاتې شوې دي، ترڅو د خپلو صنایعو لپاره د افغانستان له سرچینو څخه ګټه واخلي. د افغانستان او پاکستان تر منځ سرحدي اختلاف د چین د پلانونو پر وړاندې خنډ رامنځته کوي، په ځانګړې توګه د چین-پاکستان د اقتصادي کاریډور پر وړاندې، چې د پام وړ پانګونه یې پرې کړې ده .

دا د افغانستان پر وړاندې د پاکستان د سیاست یو بشپړ تصویر دی او کوم څه چې مشخص کېږي هغه دا چې امریکا د دوی تر منځ د شخړې د رامنځته کېدو اصلي لامل دی. همدارنګه په دې برخه کې د دښمنۍ زیاتوالی، وسله‌وال سرحدي اختلاف، په ټولو برخو کې د شخړو زیاتوالی او د افغانستان په دننه کې د پاکستان لخوا د هوایي بریدونو ترسره کول شامل دي. د بېلګې په توګه د افغانستان دفاع وزیر اعلان وکړ، چې د پاکستان هوایي ځواک جېټ الوتکو د خوست او پکتیکا پر سرحدي سیمو بریدونه کړي، چې په پایله کې یې بې‌ګناه ښځې او ماشومان وژل شوي دي. د پاکستان پوځ او حکومت په دې اړه خپل نظر نه دی څرګند کړی. دغه بریدونه له هغو بریدونو وروسته ترسره شول، کله چې شپږ پاکستاني عسکر د افغانستان او پاکستان د سرحد په اوږدو کې په یوه

پوسته کې ووژل شول او له هغه وروسته بیا اووه عسکر د افغانستان پولې ته نږدې په شمالي وزیرستان کې د وروستي برید پرمهال ووژل شول. (الشرق الاوسط، ۱۸ مارچ ۲۰۲۴).

۷. د دواړو هېوادونو تر منځ خرابې اړیکې له ۲۰۲۱م کال راهیسې د لا خرابوالي خواته روانې دي او لامل یې د امریکا د ګټو خوندیتوب دی، چې دغه وضعیت ته لمن وهي. دغه ګټې دایمي دي او د شخړو د زیاتېدو لامل کېږي، مهمه نه ده چې پاکستان دې د پیسو له نړیوال صندوق (IMF) څخه پور واخلي یا وانه خلي. که څه هم د پیسو نړیوال صندوق شرطونه او د پور هوکړه لیکونه، یوازې هغه موضوعات لکه؛ داخلي کرنسي، نرخونه، سوداګري، انرژي او مالیات تر پوښښ لاندې راولي او په رسمي توګه د افغانستان او پاکستان اړیکې پکې نه شاملېږي، خو بیا هم د امریکا له فریب څخه ډک سیاستونه له پامه نشو غورځولی. همدغه ډول سیاستونه پاکستاني چارواکي د پور ژمنتیا ته هڅوي او هغوی د امریکایي ګټو د خوندیتوب، په ځانګړې توګه له افغانستان سره د شخړو د پراخوالي، لپاره هڅوي .

پاکستان د ۲۰۲۳م کال په دوبي کې یو ۳ میلیارد ډالري پور د پیسو له نړیوال صندوق (IMF) څخه ترلاسه کړ، چې د امریکا تر کنټرول لاندې و او اوس د نورو مرستو ژمنې هم ورسره کوي. "د پیسو نړیوال صندوق د جمعې په ورځ د پاکستان له حکومت سره یو هوکړه لیک لاسلیک کړ، ترڅو د دریو کالونو په بهیر کې د ۷ میلیاردو په ارزښت د مالي مرستې یو پروګرام رامنځته کړي." (عربي سکای نیوز، ۱۳ جولای ۲۰۲۴). دغه مالي ملاتړ د امریکایي موخو د ترسره کېدو لپاره د پاکستان ژمنتیا نوره هم زیاتوي، په ځانګړې توګه له افغانستان سره د شخړو په برخه کې.

۸. دغو ټولو خبرو ته په کتلو، د پاکستان د اوسني دولت څرګندونو ـ چې له امریکایي ګټو سره همغږې دي ـ د دواړو هیواونو تر منځ ناندرۍ او شخړې ډېرې کړې دي. دا خبره په هغه پېښنه کې چې د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ په منځنیو کې پکې څو تنه پاکستاني سرتېري ووژل شول، څرګنده ده:

الف) د پاکستان دفاع وزیر بي بي سي ته وویل چې «پاکستان به د تروریزم پر وړاندې د نوو نظامي عملیاتو په چوکاټ کې په افغانستان کې خپلو بریدونو ته دوام ورکړي. (سرچینه: BBC English ...، ۲۰۲۴/۷/۲) د همدې سرچینې له مخې «طالبانو دغه څرګندونې"غیرمسئولانه" وبللې او پاکستان ته یې ګواښ وکړ چې تر پولې دې خوا بریدونه به"عواقب" ولري.»

ب) ډیپلوماټیکې ناندرۍ: «د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د چهارشنبې په ورځ د طالبانو تر رهبرۍ لاندې د افغانستان د حکومت مرستیال سفیر احضار کړ او له طالبانو یې وغوښتل چې په افغانستان کې د مېشتو وسله‌والو

ډلو پر وړاندې ګام پورته کړي، چې اسلام آباد وايي دا اونۍ يې پر يوه نظامي اډه برید وکړ» (سرچینه: الجزیره ویبپاڼه، ۱۷جولای ۲۰۲۴)

ج) «د شبه نظامیانو یوې ډلې د دوشنبې سهار وختي مهال د خیبر پښتونخوا د بنو په سیمه کې پر یوه نظامي قرارګاه برید وکړ چې لومړی یوه بریدګر خپل له چاودیدونکو توکو ډک موټر د قرارګاه له دیوال سره وجنګاوه چې د اتو عسکرو د وژنې باعث شو... پاکستان په مکرر ډول د افغانستان له حکومت سره خپلې اندېښنې شریکې کړې دي او له هغه یې غوښتي چې د تروریستانو لخوا د افغانستان د خاورې د دوامداره کارونې مخنیوی وکړي او د دغو عناصرو پر وړاندې اغېزناک ګام پورته کړي... بیانیه زیاتوي چې پوځ د دغه برید ګوته "حافظ ګل بهادر" ته نیسي چې په پاکستاني طالبانو پورې تړاو لري او په افغانستان کې مېشت دی او پخوا یې هم د افغانستان له خاورې څخه په پاکستان کې د تروریستي بریدونو د پلانولو او اجرا کولو لپاره استفاده کړې ده.» (سرچینه: انادولو خبري اژانس، ۱۷جولای ۲۰۲۴)

د) سرحدي نښتې: العربیه ویبپاڼې د ۲۰۲۴ د اګسټ په ۱۳مه د یوه خبر په خپرولو سره ولیکل: «د طالبانو دولت نن سه شنبه پاکستاني ځواکونه، د دواړو هېوادونو تر منځ په سرحدي نښتو کې د درې ملکیانو پر وژنه ـ چې یوه ښځه او دوه کوچنیان وو ـ تورن کړل... په تورخم کې د پاکستان یوه سرحدي مقام وویل چې په دغه نښته کې درې پاکستاني سرتېري ټپیان شوي دي.»

۹. لنډه دا چې: په پاکستان کې د افغان کډوالو په اړه سرحدي شخړې او اختلافات او دغه راز د افغانستان پر دولت د پاکستان دوامداره تورونه؛ چې د پاکستاني طالبانو جنګیالیو ته پناه ورکوي او دا چې بریدونه د افغانستان له خاورې کېږي، دا ټول د دواړو طرفونو تر منځ د شخړو او ناندریو له ډېرېدو سره مرسته کوي. دا وضعیت شخړو، سرحدي نښتو او د افغانستان پر سرحدي ښارونو او کلو باندې د پاکستان هوایي بریدونو ته زمینه برابروي. په ډېر احتمال سره په دغه لړۍ کې له ۲۰۲۱ کال ـ چې د بایډن حکومت له افغانستان څخه ووت ـ راپدې خوا پرله پسې ډېروالی راغلی دی. د دغو شخړو اصلي عامل امریکایي ګڼې دي، لکه څه ډول چې مو مخکې واضح کړه. د امریکا متحده ایالات په سیمه کې خپلو موخو ته د رسېدو او د چین د نفوذ پر وړاندې مقابلې لپاره د دغو شخړو او ناندریو د ډېرولو هڅه کوي.

که څه هم د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) لخوا تعین شوي شرطونه په صریح ډول دا مسایل نه رانغاړي، خو د امریکا متحده ایالات د دغو قرضونو له لارې په پاکستان کې خپلو متحدینو ته انګېزه ورکوي چې له افغانستان سره ناندرۍ او شخړې زیاتې کړي. د امریکا په ولسمشریزو ټاکنو کې د ډیموکراټانو او جمهوریت غوښتونکو تر منځ د شدید رقابت په درشل کې او د جمهوریت غوښتونکو د نوماند ډونالډ ټرمپ لخوا په ۲۰۲۱ کال کې له افغانستان څخه د امریکا د شرمناکې وتنې په اړه د بایډن پر حکومت د سختو نیوکو له امله، شونې ده چې د

بایډن دولت پاکستان له طالبانو سره شدیدو نښتو او شخړو ته وهڅوي، تر څو امریکایانو ته وښيي چې پاکستان د طالبانو مسله د امریکا متحده ایالاتو له طرفه مدیریت کوي.

په همدې دلیل، په پاکستان کې د امریکا د مزدورانو څرګندونې د تشدید او تهدید څرګندوی دي، ښایي دغه خال خال نښتې پر پراخو سرحدي نښتو بدلې شي؛ خو د یوې تمام عیارې او پراخې جګړې شونتیا لرې ده، په ځانګړې توګه دا چې ځواکمن لوری (پاکستان) د افغانستان پر ځمکو ادعا او د لاس ته راوړلو غوښتنه یې نه لري.

۱۰. دا د خلافت دولت او اسلامي شریعت د حاکمیت په نشت کې د مسلمانانو وضعیت دی او  د دغه وضعیت بدلون دې ته اړتیا لري چې د مسلمانانو تر منځ پولې ړنګې او د یوه خلیفه تر حاکمیت لاندې یې خاورې متحدې شي. دا وضعیت به تر هغه ادامه لري، تر څو امت او په ځانګړې توګه د قدرت خاوندان د الله سبحانه و تعالی او خپل امت په خاطر راپورته نه شي او دغه خاین حاکمان را و نه پرځوي؛ هغه حاکمان چې هر ماښام د خپلو خلکو پر وړاندې دسیسې جوړې او هر سهار دغه دسیسې د الله د دښمنانو؛ امریکا او نورو د خوشالولو لپاره پلې کوي. د مسلمانانو چارې یوازې په هغه څه سره اصلاح کېدی شي چې لومړی پرې اصلاح شوې وې: د هغه څه پر اساس حکم کول چې الله سبحانه و تعالی نازل کړي دي؛ د نبوت پر منهج خلافت دولت په چوکاټ کې چې کافران خپل شا ته تیت او پرک کوي: ﴿**فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ**﴾ هغه خلافت چې اساسي قانون یې له اسلام؛ کتاب الله، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو، د اصحابو له اجماع او شرعي قیاس څخه اخیستل شوی وي، نه وضعي اساسي قانون. هغه که په ۱۹۶۴ کال کې د محمد ظاهر شاه د دوران اساسي قانون وي چې په ۱۹۷۳ کال کې یې حکومت پای ته ورسېد او طالبانو د خپل عدلیې وزیر په بیانیه کې په ۲۰۲۱/۹/۲۸ نېټه اعلان کړه چې هغه مني (منبع: الجزیره و آناتولی، ۲۰۲۱/۹/۲۸) او که نور اساسي قوانین وي چې په اسلامي خاورو کې پلي کېږي، دا ټول له هغه څه سره مخالف دي چې الله سبحانه و تعالی پرې امر کړی دی:

**﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللهُ إِلَيْكَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللهُ أَنْ يُصِيبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ﴾** [مائدة: ۴۹]

*ژباړه: او د دوی په منځ کې پر هغه څه پرېکړه کوه چې الله تعالی نازل کړي دي او د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه او له دوی څخه ووېرېږه چې له ځینې هغه څه څخه دې په فتنه کې وا نه چوي چې الله تا ته نازل کړي دي، که چېرې یې مخ وګرځاوه، نو پوه شه چې الله تعالی دوی ته د دوی د ځینو ګناهونو د جزا ورکولو اراده لري.*

افغانستان او پاکستان باید درک کړي چې دوی دوه اسلامي خاورې دي او تر منځ يې جګړه حرامه ده... دوی باید په خپل منځ کې د ورورۍ اړیکې قوي کړي او له استعمارګرو په ځانګړې ډول امریکا سره خپلې اړیکې پرې کړي او د حزب التحریر بلنې ته ـ چې د خلافت د تاسیس لپاره کار کوي ـ مثبت ځواب ووايي، تر څو مسلمانان د عزت خاوندان شي او کفار رسوا او ذلیل شي.

﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (4) بِنَصْرِ اللهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾ [روم: 4-5]

*ژباړه: او په هغه ورځ به مسلمانان خوشاله شي. د الله په نصرت سره، د الله چې چا ته خوښه شي د هغه نصرت کوي او هغه برلاسی او مهربانه ذات دی.*

**۲۲ صفر ۱۴۴٦هـ.ق**

**۲۰۲۴/۸/۲۷م.**